**مطبوعاتي اعلاميه**

## د جمهور رييس لومړي مرستيال د عامه افکارو د انحراف او د خلکو له پوښتنو څخه د تېښتې لپاره ناحقه تورونو ته پنا وړې ده

د ولسمشرۍ لومړي مرستيال امر الله صالح د روان کال د لړم په ۲۴مه د شپږنيمو بجو د ناستي په راپور کې په خپلو ټولنيزو پاڼو کې پر کابل پوهنتون د برید د طرحه کوونکي د نيولو خبر ورکړ او ويې ويل: «لکه څنګه مو چې ويلي وو، داعش نوم دی. هغوی چې دا کار يې کړی دی، څو هويتي دي، حزب‌التحرير-طالب- داعش او ټول». نوموړی زياتوي: «هر وخت چې اړتيا وه، له يوه ځانګړي نامه او لقب څخه يې کار اخيستی دی».

د حزب‌التحرير ولايه ـ افغانستان مطبوعاتي دفتر د ولسمشرۍ رياست د لومړي مرستيال نامسولانه څرګندونې په خورا سختو ټکو غندي او په ټينګار سره بيانوي چې حزب‌التحرير نه يوازې په افغانستان، بلکې په ټول اسلامي امت کې، تل له هر ډول هغه ترور او وحشت څخه برائت اعلان کړی، چې استخباراتي بنسټونه، کرايي قاتلين او د کفارو اجيران يې ترسره کوي.

حزب‌التحرير په اسلامي نړۍ کې د يوه ستر فکري او سياسي حزب په توګه په افغانستان کې روان وضعيت له نږدې څاري او هغه تروريستي بريدونه چې په وروستيو کې پر سياسي تحليلګرانو، د جوماتونو پر امامانو، قومي متنفذينو، تعليمي او تحصيلي بنسټونو او خبريالانو ترسره شوي دي، د هغو استخباراتي بنسټونو او کرايي قاتلينو کار بولي، چې د افغانستان په روانه جګړه کې ستره ونډه لري او اوس د سولې په پروسه کې خپله سياسي بقا په خطر کې ويني. نو د نړيوالو په ځانګړې توګه د خپل بادار امريکا چې رهبري يې د بدلون په حال کې ده، د پاملرنې د جلبولو لپاره په مختلفو نومونو دا ډول وحشانه بريدونه ترسره کوي؛ ترڅو امريکا او ناټو د خپلو ځواکونو له ايستلو څخه منصرف کړي، د لوبې شرايط په خپله ګټه بدل کړي او د سولې په کېک کې يې زياته برخه په نصيب شي.

د کابل پوهنتون پېښه يوه مرموزه استخباراتي، زړه بوږنوونکې او ناانساني پېښه وه او د افغانستان د ولسمشرۍ رياست لومړي مرستيال د خلکو له پوښتنو څخه د تېښتې او عامه افکارو د انحراف لپاره له ناچارۍ او ستومانۍ دا ډول تور لګولو ته پنا وړې او حتی غوارې د بدنامۍ دا تور داغ او د نظام جرم يوه محصل ته منسوب کړي او د طالب او داعش تر څنګ يې د حزب‌التحرير نوم هم ياد کړی دی.

په داسې حال کې چې حزب‌التحرير په ټوله نړۍ کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طريقې پر اساس د ټولنې د تغير او د اسلامي دولت (راشده خلافت) د تاسيس لپاره فکري او سياسي مبارزه کوي، هېڅکله يې پر مادي او نظامي کړنو لاس نه دی پورې کړی او په افغانستان کې د حزب‌التحرير د يوې نيمې لسيزې فعاليت په اوږدو کې ډېرې سياسي رهبران، قومي متنفذين او د افغانستان مسلمان خلک له نږدې د دغه واقعيت شاهدان هم دي.

**د حزب‌التحرير ـ ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**